مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدصدیق ننګ
۲۰۲۶/۰۵/۰۷

# لنډۍ




هسي سکون او هسي شور چي په ټپه کي شته دی
ټوله نړۍ کي نشته نور چي په ټپه کي شته دی

چي په یوه ناره هلاک کړي ټول لښکر د انګریز
نشته اټوم کي هسي زور چي په ټپه کي شته دی

وايي زرتشت هم د پښتو لنډۍ ارمان کړی و
ما سره نشته هسي اور چي په ټپه کي شته دی

په کلیواله ژبه پیبي مرغلري د خیال
ځار د ښایست او له انځور چي په ټپه کي شته دی

که یي مین که یي شپونکی که یي بزګر پورته کړي
اشنا خوږ غږ دی په هر لور چي په ټپه کي شته دی

هم ترنم دی هم تصنیف دی حیرانی دی ورته
هم کیفیت د ټنګ ټکور چي په ټپه کي شته دی

چي معشوقه یي خپل پردېس جانان وطن ته بولي
وايي اباد دې کړه خپل کور چي په ټپه کي شته دی

ننګه! چاربیتي خلوریزې دې زه کله منم
یاد مي کړه خال د زني تور چي په ټپه کي شته دی.

محمدصدیق ننګ د می میاشت 2026 م کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځير و لولئ